## الدرس الثالث
## دريم درس

### احوال القبر
### د قبر حالات

انس رضی الله عنه فرمائي چي رسول اللهﷺ فرمائیل دی : چی یو بنده قبر کښې کیښودلے شی ، او د هغه خپل خپلوان تری واپس شی ، مری د هغوی د پیزار آواز آوری چی دوه ملائک ورته راشی ، په قبر کښې ئے کینوی ، ورته ووائی ته ددی سړی په باره کښې څه وائے ؟ د مؤمن سړی جواب دا وی چی زه ګواهی کوم چی دا د الله بنده او رسول دی ، نبی کریم ﷺ وفرمائیل چی دی بنده ته ووئیلۍ شی چی جهنم کښې خپل ځائی وګوره ، الله تعالی ددی بدل کښې تاله جنت کښې ځائی درکړو ، رسول الله ﷺ وفرمایل چی دغه بنده به په یوځائي دا دواړه ځایونه ګوری ، البته کافر یا منافق به د ملائکو په جواب کښې وائی ، ما ته پته نشته ، خلقو چي به څه وئیل ، ما به هم هغه وئیل هغه ته به ووئیلۍ شی چی نه تا سره علم وو ، او نه د حق پسی تللۍ وی، بیا به په زور سره یو ګرز باندی د غوږونو مینځ کښې ګوزار ورکړی ، د پیریانو او انسانانو نه علاوه ټومره مخلوقات چی نزدی وی هغه ددی مری آواز آوری ، (رواه البخاری) په قبر کښې دوباره د انسان روح راتلل د انسانی عقل پدی نه پوهیږی ، پدی باندی به ایمان بالغیب لرو، او ټول مسلمانان پدی عقیده متفق دی چی کله مؤمن د نعمتونو مستحق وی نو قبر کښې هغه له نعمتونه میلاویږی ، او که د عذاب مستحق وی نو قبر کښې هغه ته عذاب میلاویږی، پدی شرط چه الله تعالی ئے معاف نکړی، الله تعالی فرمائی:[النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ] {غافر: ٤٦} ترجمه:اُور پیش کیدی شی دوی په هغې باندی صبا او بیګاه ، او په هغه ورځ چی قائم شی قیامت (وبه وئیلۍ شی) داخل کړئ فرعونیان ډیر سخت عذاب ته ،د صحیح مسلم په حدیث کښې رسول اللهﷺفرمائیلی دی : د قبر د عذاب نه پناهی غواړئ)عقل سلیم والا انسان ددی حقیقت نه انکار نکوی څکه چی انسان په ژوند کښې داسی حالات لیدلی وی چی دلیل وی په برزخی حالاتو باندی، لکه یو انسان خوب وینی په هغه باندی خوب کښې ډیر تکلیف دی ، لیکن خوا کښې انسان د هغه په تکلیف نه پوهیږی حالانکه د ژوند او مرګ ډیر فرق دی، قبر کښې روح او بدن دواړو ته سزا میلاویږی،رسول اللهﷺ فرمایلی دی : قَالَ: «إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنَازِلِ الآخِرَةِ ، فَإِنْ نَجَا مِنْهُ، فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ، فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ » ترمذی :٢٢٣٠) **ترجمه** : د آخرت د منزلونو نه قبر اول منزل دی ، څوک چی دلته کامیاب شی نو راتلونکی مرحلی هم آسانی وی، او که څوک دلته ناکامه شی نو راتلونکی مرحلی نوری هم سختی وی ، هر مسلمان له پکار دی چی د قبر د عذاب نه ډیره پناهی وغواړی ، او خاصکر د مونځ په آخری قاعده کښې د سلام نه مخکښې ، او د ګناهونو نه ځان وساتی ، د قبر د عذاب او د جهنم د عذاب د ټولو نه لوئی سبب ګناه ده ، د مرګ نه پس حالاتو ته د برزخ ژوند وائی ، اکثر خلق په قبرونو کښې دفن کیږی څکه ورته عذاب قبر وائی ، مثلا که څوک اُوبو کښې غرق شی ، یا اُور کښې وسوزی ، یا حیوانات ئے وخوری ، نو دی ټولو ته به په برزخ کښې عذاب یا نعمتونه وی ، د عذاب قبر ډیر صورتونه دی لکه په ګروزونو باندی وهل ، قبر د تیاری نه ډکول ، د اُور بستره ورته غوړول ، یا د اُور د جهنم نه دروازه کولاوول ، یا عمل د یو بد شکله انسان په صورت کښې راتلل چی ډیر بد بویه وی چی قبر کښې ورسره وی ، که قبر والا کافر یا منافق وی نو د قبر عذاب مسلسل وی ، او که مؤمن ګنهګار وی نو د ګناه په حساب سره به سزا وی او کله به عذاب ختم شی ، مؤمن ته په قبر کښې نعمتونه میلاویږی ، قبر ورته کولاو کړي ، د نُور نه ئے ډک کړی، د جنت نه ورته دروازه کولاوه کړی چي د جنت یخه هواء او خوشبوئی ورباندي لګی ، د جنت بستره ورته وغوړوی ، او دده نیک عمل د یو خائسته انسان په شکل کښې راشی، او دده ملګري شی چي دي ورسره وخت تیروی .